دافغانستان اسلامي امارت

د ارشــــاد، حــج او اوقافــو وزارت

د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۱۴/ ربیع الأول /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ٦/ سنبله/۱۴۰۵هـ، ش


# په مرضونو او مصیبتونو صبر کول د مؤمن مقام لوړوي ، د الله د رحمت دروازې را خلاصوي او ګناهونه له منځه وړي.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على إمام المرسلين نبينا محمد صلى الله عليه وسلم وآله وصحبه أجمعين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ * أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ* فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ * الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ * وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ * وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ * وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ * وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ).[١]

**درنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

زمونږ د نن ورځ موضوع :**(په مرضونو او مصیبتونو صبر کول د مؤمن مقام لوړوي ، د الله د رحمت دروازې را خلاصوي او ګناهونه له منځه وړي) ده.**

د الله جل جلاله له امتحاناتو څخه یو امتحان مرضونه او مصیبتونه دي لکه د ځان مرض، مقطعي مرض، دائمي مرض ، د وجود د اعضاوو مرض ، د لاس ، پښو او د بدن د غړو مرض او داسې نور.

همدارنګه د الله تعالی له امتحاناتو څخه په مصیبتونو اخته کیدل دي لکه د ځان مصیبت ، د اولاد مصیبت ، د مال مصیبت او داسې نور. د مرضونو او مصیبتونو له امتحاناتو څخه څوک خلاص نه دی، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ).[٢]

ترجمه: چې خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بني آدم په رنځ او مشقت کې

---

[١] -الشعراء: (٨٢)

[٢] - البلد:( ۴)

په يو بل مبارک آيت کې راځي:( أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لاَ يُفْتَنُونَ ).(٣)
ترجمه:آيا گمان کوي دا خلق د دې چې پرې به ښودی شي دوی (په) همدې قدر چې وواييي دوی چې ايمان راوړی دی مونږ حال دا چې دوی به ونه ازمويل شي
په يو بل مبارک آيت کې راځي:(الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ).(٤)
ترجمه:هغه الله چې پيدا کړی د مرگ او ژوندون لپاره د دې چې و آزمويي تاسې چې کوم يو له تاسې ډير ښه دی د عمل له مخې.

مرضونه به د الله جل جلاله پيغمبرانو ته هم رسيدل .حضرت ايوب عليه السلام مريض شوی ؤ ، اولاد او مال يې هم له منځه تللی ؤ، حضرت ايوب عليه السلام په دغه ټولو مرضونو او مصيبتونو صبر وکړ او هغه الله تعالی ته د خپل مرض د ازالې لپاره داسې سوال وکړو:

(وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ * فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَى لِلْعَابِدِينَ).(٥)
ترجمه:او (ياد کړه ای محمده ! قصه د ) ايوب چې ندا غږ يې وکړ خپل رب ته چې بېشکه زه رسېدلی دی ماته ضرر (رنځ او سختي په بدن کې) او ته ډير مهربان يې له ټولو مهربانانو څخه پس قبوله کړه مونږ دعا د ده پس لرې کړ مونږ هغه چې وو په ده باندې له (بدنې او مالي) ضرره او ورکړ موږ دغه (ايوب) ته اهل د ده او په مثل د هغوی له هغوی سره په رحمت سره له نزده زمونږ.
کله چې ايوب عليه السلام په مرض او د مال په مصيبت صبر وکړ ، نو الله جل جلاله ورته کامل صحت بيرته ورکړ او مال يې هم ورکړ او د هغه د غوره والي او صبر صفت يې راتلونکو امتونو ته هم بيان کړ. الله جل جلاله وفرمايل:( إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِراً نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ).(٦)
ترجمه:بېشکه مونږ ومونډ دغه (ايوب) صبرناک (په سختيو) ښه بنده وو دی بېشکه چې دی ډير رجوع کوونکی وو الله ته.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به هم مريض كيدلو . حضرت الله عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:(دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ يُوعَكُ فَمَسِسْتُهُ بِيَدِى فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكًا شَدِيدًا.فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَجَلْ إِنِّى أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلاَنِ مِنْكُمْ ». قَالَ فَقُلْتُ ذَلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَجَلْ ». ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلاَّ حَطَّ اللَّهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا ».(٧)

ژباړه: زه داخل شوم په رسول الله صلى الله صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې چې د هغه تبه وه ، نو ما په لاس باندې لمس کړ او ورته مې وويل: ای د الله رسوله! ستاسو سخته شديده تبه ده؟ نبي عليه السلام راته وفرمايل:هو! ما هم تبه نيسي لکه چې ستاسې دوه سړي تبه نيسي. ما ورته وويل: داځکه چې ستاسو لپاره دوه اجرونه دي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايلة هو! (زما لپاره دوه اجرونه دي).

---

٣ - العنكبوت:( ٢)
٤ -الملك:( ٢)
٥ -الانبياء: (٨٤)
٦ -ص:(٤٤)
٧ - صحيح مسلم (٨/ ١٤)، صحيح البخاري ت (١٤/ ٢٤٣)

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نشته داسې یو مسلمان چې ورته تکلیف د مرض ورسیږي او یا بل ډول تکلیف ورسیږي ، مگر داچې رژوي الله تعالی په مرض سره د هغه گناهونه لکه څرنگه چې رژوي ونه خپلې پاڼې.

نو د دې دنیا اصل دا دی چې انسان د بېلابېلو ازموینو له څپو سره مخ کیږي. تر هغه چې انسان په دې دنیا کې موجود وي، له ازموینې سره مخامخ وي.

**۱-مرضونه او مصیبتونه کله ناکله د خیر او رحمت علامه وي.** په مرضونو او مصیبتونو اخته کیدل کله ناکله د بنده لپاره د الله تعالی د خیر او غوره والي علامه وي او د الله تعالی د مینې دلیل هم کېدای شي.

څوک چې د مرضونو، ددښمن د ویرې او نورو مصیبتونو پر وخت صبر وکړي ، الله تعالی فرمایلي چې داسې کسانو لپاره مغفرت دی، رحمت دی او دوی هدایت موندونکي دي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ).[۸]

ترجمه:او خامخا مونږ آزمویو تاسې په یوه شي چې هغه عبارت دی ( د دوښمن) له ویرې او له لوږې (قحط) او له کموالي د مالونو (په راز راز آفتونو سره) او د نفسو (په قتل ، موت ، مرض او نورو) او د میوو (په آسمانی او ځمکني افتونو سره) او زیری ورکړه صبر کوونکو ته (په جنت سره ، صبر کوونکي) هغه کسان دي کله چې ور ورسیږي دوی ته څه مصیبت نو وایی دوی بېشکه مونږ (مملوک) د الله یو او بېشکه مونږ همدغه (الله ته) ورتلونکي یو (په آخرت کې) دغه کسان په همدوی ده ثنا او صفت او په نېکه یادونه (له طرفه د ) رب د دوی ، او مهرباني ده ، او دغه کسان همدوی دي سمه لار موندونکي(حق ته)

امام طبري رحمه الله وایې: څوک چې په مرضونو او مصیبتونو صبر وکړي، الله تعالی ورته په عوض کې درې ډوله انعامونه ورکوي : د الله تعالی له خوا (صلوات)یعنې بښنه اومغفرت، الله تعالی به یې په خپل رحمت کې ونغاړي اوالله تعالی به ورته سمه اودهدایت لار وروښایي.[۹]

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي: الله تعالی فرمایي چې کوم مؤمن خپله چاره الله تعالی ته وسپاري او د مصیبت پر وخت انالله وانا الیه راجعون ووایې د هغه لپاره درې ډوله خبرې لیکل کیږي: د الله تعالی له خوا بښنه ، او د الله تعالی له خوا رحمت او د سمې لارې موندل.[۱۰]

په یو حدیث شریف کې راځي چې کله مؤمن ته مرض او مصیبت ورسیږي او هغه ورباندې صبر وکړي ، ده ته په دې کې هم خیر پروت دی.لکه څنگه چې په حدیث شریف کې راځي.له صهیب بن سنان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« عَجَبًا لأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ ».[۱۱]

---

۸ -البقرة: (۱۵۷)

۹ - تفسیر الطبري (۳/ ۲۲۲)

۱۰ - تفسیر الطبري (۳/ ۲۲۳)

۱۱ - صحیح مسلم (۸/ ۲۲۷)

ژباړه: د مؤمن حالت د حیرانتیا وړ دی؛ ځکه د هغه هر حالت د ده لپاره خیر دی، او دا ځانګړنه یوازې د مؤمن لپاره ده. که خوښي او نعمت ورته ورسېږي، په هغې شکر وباسي، نو په دې کې یې خیر دی؛ او که سختي او مصیبت ورته ورسېږي، په هغې صبر کوي، نو په دې کې هم د هغه خیر وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ.»(١٢)

ژباړه: چا ته چې الله تعالی د خیر اراده وکړي، هغه په مصیبت اخته کوي.

محدثین ددې وجه دا بیانوي چې د بدن سلامتیا او د مال سلامتیا په انسان کې غفلت پیدا کوي ، نو کله چې د الله تعالی خاص بندګان د الله د شکر څخه په غفلت کې واقع شي، نو الله تعالی په خپل فضل او خاص رحمت سره هغه تنبیه کړي، د بدن او یا مال په مصیبت یې اخته کړي ترڅو د غفلت څخه راویښ شي .(١٣) په یو بل حدیث مبارک کې راځي، چې الله تعالی هغه چاته چې د رحمت او ثواب ورکولو اراده وکړي ، نو د هغه په مرض او یا په بل کوم باندې مبتلاء کړي. د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ، فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا، وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ».(١٤)

ژباړه: بېشکه د لوی اجر اندازه د لویې ازموینې له اندازې سره وي، او کله چې الله تعالی له کوم قوم سره مینه وکړي، هغوی په ازموینه اخته کوي. نو څوک چې راضي شي، د هغه لپاره د الله رضا ده؛ او څوک چې ناراضه شي، د هغه لپاره د الله غضب او ناخوښي ده.

علامه مناوي رحمه الله ددې حدیث ( إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا ابْتَلَاهُ ) په اړه وایي کله چې الله تعالی یو بنده سره محبت کول وغواړي ، نو په مصیبت یې اخته کړي.ددې لپاره چې الله تعالی دده د عاجزی آواز واوري او په سوال کولو کې یې مبالغه واوري. کله چې دعاء غواړي ، نو ملائکې وایې : پیژندل شوی آواز دی، جبرائیل علیه السلام ووایې : ای ربه! حاجت یې پوره کړه. نو الله تعالی ورته وفرمایي: پرېږدئ زما بنده ، زه غواړم چې زه د هغه آواز واورم).(١٥)

**٢- په مرضونو او مصیبتونو اخته کیدل او په هغې صبر کول د مؤمن مقام لوړوي.**

کله چې مؤمن ته کوم مریضي ورسیږي او یا ورته بل کوم مصیبت ورسیږي ، الله تعالی په دې سره د مؤمن مقام لوړوي او درجات یې لوړوي او دا بنده ځان ته را نیږدې کوي.

په ځینو وختونو کې الله تعالی دخپل مؤمن بنده لپاره یوه ډېره لوړه مرتبه او درجه ټاکلې وي، خو مؤمن بنده په خپلو اعمالو سره هغې درجې ته نشي رسیدلې. نو الله تعالی خپل مؤمن بنده په ناروغۍ او یا په نورو مصیبتونو اخته کوي، تر څو چې هغه د دغې درجې وړ وګرځي او هغې ته ورسېږي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ، ابْتَلَاهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ أَوْ فِي مَالِهِ أَوْ فِي وَلَدِهِ، ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلَى ذَلِكَ، حَتَّى يُبَلِّغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللهِ تَعَالَى.»(١٦)

---

١٢ - صحيح البخاري ت (١٤/ ٢٤٠)

١٣ - كشف المشكل من حديث الصحيحين،لابن الجوزي (ص: ١٠١٠)

١٤ - سنن الترمذي (٤/ ٦٠١)

١٥- بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية (٤/ ١٧٤)

١٦ - سنن أبي داود (٣/ ١٨٣)

ژباړه: کله چې د یوه بنده لپاره د الله تعالی په نزد یوه مرتبه او درجه له مخکې ټاکل شوې وي،

خو هغه د خپلو اعمالو په وسیله هغې درجې ته ونه رسېږي، نو الله تعالی یې د بدن، مال یا د اولاد په ازموینه باندې اخته کوي، بیا ورته پر هغه مصیبت صبر ورکوي، تر دې چې هغه بنده هغې درجې ته ورسوي چې الله تعالی ورته ټاکلې وي.

په آخرت کې به د هغو کسانو چې په مرضونو اخته شوي دي او پر هغې یې صبر کړی وي ، دومره لوی درجات دي چې روغ خلک به ووایې چې کاشکې مونږ ته هم دغه مصیبتونه رسیدلي وای، خو چې دغه لوړې درجې مو په برخه شوی وای.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«يَوَدُّ أَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حِينَ يُعْطَى أَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ، لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ قُرِّضَتْ بِالْمَقَارِيضِ.»[۱۷]

ژباړه:د قیامت په ورځ به هغه کسان چې په دنیا کې له ناروغیو او مصیبتونو څخه روغ او عافیت کې وو، کله چې مصیبت ځپلو خلکو ته د هغوی اجر ورکړل شي، ارمان به وکړي چې کاشکې د دنیا په ژوند کې د دوی پوستکي په قیچیانو پرې شوي وای، ترڅو هغوی هم دغه ستر اجر ترلاسه کړی وای.

امام عبدالقادر جیلاني رحمه الله وایي: د مصیبتونو څخه لذت او تلذُّذ اخیستل د عارفینو له مقاماتو څخه دي، مګر دا مقام الله تعالی هغه چاته ورکوي چې خپل طاقت د الله تعالی د رضامندۍ لپاره خرچ کړي، ځکه چې مصیبت کله د جرم کولو په مقابل کې راځي او کله د ګناهونو د رژولو لپاره راځي او کله د درجو او لوړو مرتبو د حاصلولو لپاره راځي او د هر حالت لپاره مشخصې علامې دي ، کله چې د جرم په مقابل کې مصیبت راځي د هغې دا علامه په مصیبت صبر نکول دي او زیاتې جزعي او فزعې او مخلوق ته شکایتونه کول دي او کله چې مصیبت د ګناهونو د رژولو لپاره راځي،نو د هغې علامه صبر کول وي په مصیبت او مخلوق ته شکایت څخه ځان ساتل وي او په بدن باندې د طاعت اساني وي او کله چې مصیبت د درجو د لوړولو او د اوچتو درجو لپاره وي ، نو د هغې علامه په مصیبت رضامندي ښودل وی ، اطمینان وي او د نیک عمل سپکوالی وي په بدن او زړه باندې.[۱۸]

**۳-د مرضونو او مصیبتونو په وجه الله تعالی د مؤمن بنده څخه د هغه ګناهونه له منځه وړي.**

ناروغي او نور مصیبتونه د هغو ګناهونو د کفارې او ښنې سبب کیږي چې مؤمن بنده په خپل زړه، غوږونو، سترګو، ژبې او نورو اندامونو په وسیله ترسره کړې دي.لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ).[۱۹]

ترجمه:او هغه څه چې رسیږي تاسې ته (ای مؤمنانو) له کوم مصیبت پس له (شامته) د هغو اعمالو دي چې کړي دي لاسونو ستاسې او عفوه کوي (الله) له ډیرو (ګناهونو).

مرضونه او مصیبتونه د ګناهونو د ښنې او کفارې سبب دی، او بنده د ګناهونو او خطاګانو څخه پاک او تصفیه کړي. ځینې خلک داسې وي چې ګناهونه ولري، خو داسې نیک عملونه ونه لري چې د هغو ګناهونو کفاره شي؛ نو الله تعالی یې په ناروغۍ اخته کوي، ترڅو د ګناهونو څخه یې پاک او تصفیه کړي؛ البته که هغه په ناروغۍ صبر وکړي او د الله تعالی څخه د اجر تمه ولري.

[۱۷] - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٠٣)، شعب الإيمان (١٢/ ٣١٦)
[۱۸] - بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية (٤/ ١٧٥)
[۱۹] -الشورى: (٣٠)

د مرضونو او مصیبتونو په وجه الله تعالی د انسان گناهونه بښي .په حدیث شریف کې راځي،رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ، مِنْ نَصَبٍ وَلاَ وَصَبٍ، وَلاَ هَمٍّ وَلاَ حُزْنٍ وَلاَ أَذًى وَلاَ غَمٍّ، حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا، إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ».[٢٠]

ژباړه: نه رسیږي مسلمان ته څه درد، څه سترتیا، ناروغي او خپگان ، او څه مصیبت او غم ؛ آن هغه غنه چې په پښه کې ننوزي ، مگر داچې رژوي ورباندې الله پاک دده گناهونه.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلاَّ حَطَّ اللَّهُ بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا ».[٢١]

ژباړه: نشته داسې یو مسلمان چې ورته تکلیف د مرض ورسیږي او یا بل ډول تکلیف ورته ورسیږي ، مگر داچې رژوي الله تعالی په مرض سره د هغه گناهونه لکه څرنگه چې رژوي ونه خپلې پاڼې.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«فَمَا يَبْرَحُ البَلَاءُ بِالعَبْدِ حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِي عَلَى الأَرْضِ مَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ».[٢٢]

ژباړه: پس دائم وي مصیبت په انسان باندې تر دې پورې چې هغه لره پريږدي او انسان په ځمکه روان وي او نه وي دده هیڅ گناه. یعنې داسې له گناه پاک شي چې په ځمکه گرځي او هیڅ گناه نلري.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا يَزَالُ البَلَاءُ بِالمُؤْمِنِ وَالمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَاعَلَيْهِ خَطِيئَةٌ».[٢٣]

ژباړه: د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تل مصیبت په مؤمن سړي او مؤمنې ښځې باندې مسلط وي ، د هغې په نفس کې وي یا د هغه په بچي باندې وي یاد هغه په مال باندې وي؛ تردې پورې چې ملاقي شي د قیامت په ورځې د الله تعالی سره حال دا چې نه وي دده هیڅ گناه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، عَنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ، قَالَ: «مَا مِنْ عَبْدٍ يُصْرَعُ صَرْعَةً مِنْ مَرَضٍ إِلَّا بَعَثَهُ اللهُ مِنْهَا طَاهِرًا».[٢٤]

ژباړه: ژباړه: د حضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې نبي علیه السلام وفرمایل:هیڅ داسې بنده نشته چې د ناروغۍ له امله ولوېږي، مگر داچې را پاڅوي به الله تعالی دی له دغې ناروغۍ څخه په داسې حال کې چې له گناهونو څخه به پاک وي.

---

[٢٠] - صحيح البخاري (٧/ ١١٤)

[٢١] - صحيح مسلم (٨/ ١٤)، صحيح البخاري ت (١٤/ ٢٤٣)

[٢٢] - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٠٢)

[٢٣] -سنن الترمذي ت شاكر وقال الترمذى:«هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» (٤/ ٦٠٢)

[٢٤] - المعجم الكبير للطبراني (٨/ ٩٧). وقال المنذري: روالطبراني في الكبير ورواته ثقات .الترغيب والترهيب (٤/ ١٥٢)

**۴-مرضونه او مصيبتونه د مؤمن لپاره جنت ته دداخليدو او د جهنم څخه د خلاصون سبب دي.**

ناروغي او مصيبتونه د مؤمن لپاره د جنت د داخلېدو او د ستر اجر د ترلاسه کولو وسيله ده.

په يو حديث شريف کې راځي. عن عَطَاءِ بنِ أَبِي رَبَاحٍ، قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ: أَلَا أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ، أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: إِنِي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ، فَادْعُ اللهَ لِي، قَالَ: «إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ، وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ» قَالَتْ: أَصْبِرُ، قَالَتْ: فَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا».(۲۵)

ژباړه: د عطاء بن ابي رباح رحمه الله څخه روايت دی ، هغه وايې چې ماته عبدالله بن عباس –خپل استاد– وويل: آيا زه تاته جنتي ښځه ونه ښايم ؟ ماورته وويل: هو! راته وه يې ښايه . راته يې وويل: دغه توره ښځه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او نبي عليه السلام ته يې وفرمايل: زه بيهوشه کيږم او زه برسيره کيږم يعنې جامې راڅخه پورته کيږي او خلکو ته ښکاره کيږم. ما ته د الله تعالى څخه دعاء وغواړه ( چې ما روغه کړي) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: که ستا خوښه وي چې ته صبر وکړې او ستا لپاره جنت دی او که ستا خوښه وي زه به د الله تعالى ته سوال وکړم چې تاته عافيت درکړي او ته روغه شی؟ هغه ښځې وويل: زه صبر کوم (په خپله مريضتيا ترڅو جنت مې په برخه شي) ، بيا يې وويل: زه بې پردې کيږم (د بيهوشی پر وخت) د الله تعالى څخه زما لپاره وغواړه چې زه بې پردې نشم د بيهوشی پر وخت . نو نبي عليه السلام ورته د الله تعالى څخه دعاء وکړه.

همدارنګه مرضونه او مصيبتونه د جهنم څخه د خلاصون زيری دی. په يو حديث شريف کې راځي.عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا مِنْ وَعَكٍ كَانَ بِهِ فَقَالَ:« أَبْشِرْ، فَإِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: هِيَ نَارِي أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِي الْمُذْنِبِ لِتَكُونَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ».(۲۶)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو کس پوښتنې ته ورغی چې په تبه مريض شوی ؤ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: تاته زيری. بيشکه الله تعالى فرمايي چې دا تبه زما اور دی چې زه يې مسلط کوم په خپل ګناهګار بنده باندې ، ددې لپاره چې دادده برخه شي د جهنم څخه.

يعنې دا اور زه په خپل مؤمن بنده د آخرت د جهنم د اور په عوض کې ورباندې مسلط کوم او په آخرت کې به له جهنم د اور څخه خلاص وي.

**۵- مرضونه او مصيبتونه کله ناکله ددې لپاره انسان ته پېښيږي ترڅو انسان د صحت د نعمت قدر وپيژني.**

ناروغي انسان ته د روغتيا او عافيت نعمت راپه يادوي.

کله ناکله ناروغي د دې لپاره هم راځي چې انسان د روغتيا او عافيت د نعمت قدر وپېژني. لکه چې ويل کېږي: ( الصحة تاج على رؤوس الأصحاء لا يراه إلا المرضى ).

ژباړه: صحت او عافيت داسې روغو خلکو په سر هغه تاج دی چې نه يېويني مګر مريضان خلک.

که شپه نه وای، د ورځې قدر به نه معلومېده؛ او که ناروغي نه وای، د روغتيا او عافيت ارزښت به انسان ته دومره ښه نه معلومېده.

---

۲۵ - صحيح مسلم (٤/ ١٩٩٤)، صحيح البخاري (٧/ ١١٦)

۲۶ - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٤١٢)، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٤/ ٥٢١)

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:« نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالفَرَاغُ.»([27])

ژباړه: دوه نعمتونه داسې دي چې تاوانيان دي په کې ډېر خلک ، چې هغه يو روغتيا ده او بل وزګارتيا ده.

نو عاقل مؤمن بايد د روغتيا په وخت کې د هغې قدر وکړي، د الله تعالی شکر ادا کړي او خپل روغ بدن د نېکو اعمالو، عبادت او د خلکو د خدمت لپاره استعمال کړي؛ ځکه کله چې ناروغي راشي، انسان ته څرګنده شي چې روغتيا او عافيت د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه دي.

**٦-همدارنګه په مرضونو او مصيبتونو کې د انسان لپاره د ناتوانۍ او بېوسۍ يو عبرت پروت دی.**

انسان کله ناکله په خپله روغتيا، ځواک او توان مغرور کېږي؛ خو بيا ناروغي پرې راشي، ترڅو خپله بېوسي او کمزوري درک کړي.

الله تعالی موږ ته د هغو خلکو حال بيان کړی چې په خپل ځواک او توان مغرور شوي وو. الله تعالی فرمايي:(فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ * فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَحِسَاتٍ لِنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَى وَهُمْ لَا يُنْصَرُونَ).([28])

ترجمه: پس هر چې عاديان وو پس کبر (لويي) يې غوره کړه په ځمکه کې په ناحقه سره او وويل دوی څوک دي زيات سخت له مونږ ځنې په قوت کې ،آيا نه ويني ( او نه پوهيدل) دوی چې بېشکه الله هغه (ذات) چې پيدا کړي يې دي دوی ،هغه ډېر سخت دی له دوی نه په قوت زور کې او دوی وو په دلايلو زمونږ چې انکار به يې کوو (سره له علمه په دې باندې چې هغه حق دی) پس را ومولیږه پر دوی باندې باد يخ ډېر زورور هيبت ناک په څو ورځو کې چې ډېرې نحسې شومې وې لپاره د ددې چې وڅکو مونږ پر دغو (کفارو) عذاب رسوا کوونکی په دغه ژوندون لږ خسيس کې او خامخا عذاب د آخرت ډېر رسوا کوونکی دی حال دا چې له دوی سره به مدد ونه کړ شي (په دفع د عذاب کې).

الله عزوجل کولای شي په يوه شېبه کې د انسان روغتيا او ځواک ترې واخلي، خو بدن يې هماغسې پرېږدي؛ ترڅو انسان پخپله د خپل حالت په اړه فکر وکړي او ووينې چې په څه شي مغرور او متکبر شوی دی.

## په مرضونو او مصيبتونو صبر کول:

دا هرڅه هغه وخت الله جل جلاله بنده ته ورکوي چې کله مؤمن بنده په مرضونو او مصيبتونو صبر وکړي.

صبر ددرې شيانو څخه عبارت دی: ١. خپل نفس له بې‌تابۍ او ناراضۍ څخه منع کول. ٢. خپله ژبه د خلګو په وړاندې له شکايت کولو څخه ساتل. ٣. خپل اندامونه له هغو کارونو څخه ساتل چې له صبر سره په ټکر کې وي.

[27] - صحيح البخاري (٨/ ٨٨)

[28] - فصلت:( ١٥-١٦)

**په مرضونو د صبر کولو اسباب:**

۱-دا یقین ساتل، چې ناروغي راته د الله تعالی له لوري مقرر شوې ده. او الله تعالی زما حالتویني .لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ).(۲۹)

ترجمه:وواېه (اى محمده! دوی ته ) له سره به ونه رسیږي مونږ ته مگر همغه چې لیکلی دي الله زمونږ لپاره همدغه (الله) دی مولا (کار جوړ وونکی) زمونږ او (خاص) پر همدغه الله باندې نو توکل (اعتماد) کوي مؤمنان(د هیلو په ترسره کیدلو، د اړتیاوو احتیاج په پوره کیدلو او د آفتونو څخه په ژغورلو محفوظولو ) کې

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا).(۳۰)

ترجمه:نه رسیږي هیڅ مصیبت آفت غم په ځمکه او نه ستاسې په ځانونو کې مگر هغه خو لیکل شوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کې پخوا له هغې څخه چې پیدا کړی وي مونږ هغه (په دنیا کې).

۲-دا یقین ساتل، چې الله تعالی په خپل بنده باندې د هغه د خپل ځان او ټولو خلکو څخه ډېر مهربان دی.

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته د بندیانو یوه ډله راوستل شوه. په هغوی کې یوه ښځه وه چې خپل ماشوم یې پیدا کړ، ماشوم یې راواخیست، خپلې سینې ته یې ونښلاوه او شیدې یې ورکړې. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«أَتَرَوْنَ هَذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟» قُلْنَا: لَا، وَاللهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا».(۳۱)

ژباړه: آیا تاسې فکر کوی چې دا ښځه به واچوي خپل بچی په اور کې ؟ موږ وویل: «نه!په الله تعالی قسم ! چې دا به نه اچوي خپل بچی په اور کې، حال دا چې دا به یې قدرت ولري.نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خامخا الله تعالی ډیر زیات مهربانه دی په خپلو بندگانو باندې نسبت مهربانۍ ددې ښځې په خپل بچي څخه.

۳-په دې پوهېدل چې هرکله الله تعالی ستا لپاره مقرر کړی ده ، نو الله تعالی ستا د مصلحت او خیر لپاره مقرر کړې ده،ځکه چې

الله تعالی حکیم ذات دی؛ هر شی په هغه ځای کې ږدي چې د هغه لپاره مناسب وي. نو کوم څه چې تا ته رسېدلي، هم د الله تعالی د حکمت له مخې دي او هم د هغه د رحمت له مخې. انسان باید باور ولري چې الله تعالی د ده د مصلحت په اړه تر ده ډېر ښه پوهېږي.

۴- ناروغ باید په دې پوهه شي چې دا دنیا فاني ده او له دې څخه غوره او ستره دنیا هم شته.ناروغ باید په یاد ولري چې دا دنیا تلپاتې نه ده، بلکې فاني ده؛ او له دې څخه یوه ډېره ستره او غوره هستوگنځای شته، چې هغه جنت دی.

---

۲۹ -التوبة: (۵۱)

۳۰-الحدید: (۲۲)

۳۱ - صحیح مسلم (٤/۲۱۰۹)

په جنت کې داسې نعمتونه دي چې نه کومې سترګې ليدلي، نه کوم غوږ اورېدلي او نه د کوم انسان په زړه کې يې تصور تېر شوی دی. حضرت انس بن مالك رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: « يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً، ثُمَّ يُقَالُ: يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ؟ فَيَقُولُ: لَا، وَاللهِ يَا رَبِّ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا، مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ، فَيُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ؟ فَيَقُولُ: لَا، وَاللهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ، وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ ».(٣٢)

ژباړه: د قيامت په ورځ به د دنيا له خلکو څخه هغه څوک چې په دنيا کې تر ټولو زيات نعمتونه لرل، خو د دوزخ له خلکو څخه وي، راوستل شي او يو ځل به د دوزخ په اور کې ډوب کړل شي. بيا به ورته وويل شي: اې د آدم زويه! آيا تا کله په دنيا کې کوم خير ليدلی و؟ آيا کله کوم نعمت درباندې تېر شوی و؟ هغه به ووايي: نه، په الله قسم، اې زما ربه! هېڅکله نه.

او د دنيا له خلکو څخه هغه څوک چې تر ټولو زيات له سختيو او کړاوونو سره مخ شوی و، خو د جنت له خلکو څخه وي، هغه به راوستل شي او يو ځل به په جنت کې ډوب کړل شي. بيا به ورته وويل شي: اې د آدم زويه! آيا تا کله کومه سختي ليدلې ده؟ آيا کله کومه ستونزه درباندې تېره شوې ده؟ هغه به ووايي:نه، په الله قسم، اې زما ربه! هېڅکله پر ما هېڅ ډول سختي نه ده تېره شوې او هېڅکله مې کوم کړاو نه دی ليدلی.

۵-په مرضونو او مصيبتونو اخته کسان بايد داسې فکر ونه کړي ، چې دا سختي يواځې پر ما ده ، بلکې مريض کس ته په کار ده چې له ځان څخه ښکته هغو خلکو ته وګوري چې دده څخه په ډيرو سختو مرضونو، تکاليفو او مصيبتونو اخته دي او ځان دې له هغوی سره پرتله کړي، ترڅو په خپل ځان شکر وباسي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ، وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ، فَهو أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ».(٣٣)

ژباړه: هغو کسانو ته وګورئ چې له تاسو څخه په ټيټ حالت کې دي، او هغو کسانو ته مه ګورئ چې له تاسو څخه په لوړو (دنيوي مزو) کې دي؛ ځکه دا ډېره مناسبه ده چې تاسو د الله تعالى هغه نعمتونه کم ونه ګڼئ چې پر تاسو يې کړي دي.

**ونسأل الله الكريم أن يشفي مرضانا ومرضى المسلمين، وأن يفرج هَمَّ المهمومين من المسلمين، وأن ينفِّس كرب المكروبين، إنَّ ربِّي سميعُ الدعاء، وهو أهل الرجاء، وهو حسبنا ونعم الوكيل، وصلى الله وسلم على نبيِّنا محمد وآله وصحبه أجمعين.**

---

٣٢ - صحيح مسلم (٤/ ٢١٦٢)

٣٣ - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٦٦) وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ .